

د پالیسۍ لنډیز

# یوه نوې کړنلاره! تر ۲۰۲۱ ز. کال وروسته اروپا، هند او افغانستان

اندریو واټکینز، تیمور شاران

FRIEDRICH EBERT STIFTUNG

د پالیسۍ(کړنلارۍ) دغه لنډیز، افغانستان سره د هندوستان تعامل او ښکېلتیا په ۲۰۲۱ ز. کال کې او تر هغه وروسته،په لنډ ډول تر ارزونې لاندې نیسي. د پالیسۍ دغه لنډیز، په دې اړه چې د امریکایي ځواکونو د وتلو څرنګتیا په اړه د ناڅرګندتیاوو زیاتوالی څنګه کولی شي په افغانستان او سیمه کې د هندوستان ګټې اغېزمنې کړي، بحث کوي[1]. همدارنګه دغه سند، د یو لړ زمینو - سناریوګانو جزییات چې نوی ډیلي یې تدوین او ترتیبولو ته اړتیا لري او په افغانستان کې د هغه هېواد د ګټو ساتلو په موخه د موجودو پالیسیو غوراوي، روښانوي. له هغه ځایه، چې د هند او اروپايي ټولنې ستراتیژیک مشارکت د ملاتړ وړ ګرځي، خو د ناډاډمنتیا کچه یې زیاته ده، دغه پالیسۍ، هغه برخې څېړي، چې دواړه لوري په افغانستان کې پکې ګډې ګټې لري.

## د افغانستان په تړاو د هندوستان پالیسي: منځپانګه

د افغانستان په تړاو د هندوستان پالیسي، پاکستان سره د هغه هیواد له سیالي څخه سرچینه اخلي. هندوستان او افغانستان په ۱۹۴۷ ز. کال کې د هند د خپلواکي له پیله ډېرې نږدې اړیکې لرلې دي. افغانستان په ملګرو ملتونو کې د پاکستان د غړيتوب پر وړاندې رایه وکاروله او ورپسې یې د سرېي جګړې پرمهال، د هندوستان د ناپیلتوب له سیاست څخه ملاتړ وکړ. د سړې جګړې پرمهال، نوی ډیلي، د خپل ناپیلتوب د سختو اصولو پرخلاف، په ۱۹۷۸ ز. کال کې، په ظاهر کې له مجاهدینو څخه د پاکستان د ملاتړ متوازن ساتلو په موخه، پر افغانستان د روسیې له یرغل څخه ملاتړ وکړ[2]. تر دې وروسته، هند له هغو افغان لوبغاړو څخه چې د پاکستان د نفوذ دمتوازن ساتنی یا مخنیوي په برخه کې ګټور ثابت شوي دي ملاتړ کړی. دغه ملاتړ، شمال ټلوالي څخه د هند ملاتړ هم رانغاړي ، چې په ۱۹۹۰ کلونو کی د طالبانو پر وړاندې جنګېدل (د شمال ټلوالي یو شمېر شخصیتونه اوس هم د هند له ملاتړ څخه برخمن دي). نوی ډیلي افغانستان په تړاو ، له ۲۰۰۱ کال راهیسې یوه داسې فعاله او پراختیا غوښتونکې پالیسۍ تعقیبوي چې د پاکستان د نفوذ خنډ وګرځي. هندوستان په تېرو ۱۸ کلونو کې، تر درې میلیارده ډالرو د زیات ارزښت مالی مرستې افغانستان ته چمتو کړي، چې ستری زیربنایي پروژې، د تخنیکي زده کړو پروګرامونه او نوي سوداګریز دهلیزونه چې په وچه کې راښکېل هېواد په توګه افغانستان لپاره ګټور او فرصتونه ډېروی. په دغو مرستو کې شاملېږي.

## د سولې پروسه، د ځواکونو وتل او د هند اندېښنې

د ناټو ځواکونو د احتمالي وتلو په تړاو ناڅرګندتیاوو، نوي ډیلي په دې فکرمن کړی، چې خپلې تر ټولو غوره ګټې څنګه خوندي کړي. په هغه صورت کې، چې بهرني ځواکونه له افغانستان څخه ووځي، هند به له سترو ستونزو سره مخ شي، چې بېلابېلې اندېښنې به رامنځته کړي: لومړی، دا چې آیا هند به وکولی شي، چې د لویدیځو هېوادونو له پراخ ملاتړ پرته، له افغان دولت څخه ملاتړ وکړي.؟ بله مسله دا ده، چې هند به د طالبانو واکمنېدو څخه د مخنیوي په موخه، چې کولی شي پاکستان ته پراخ سیاسي عمق چمتو کړي او په پایله کې، سیمه ییز جنګیالي د دې جوګه کړي چې پر هند برید وکړي، کوم کارونه ترسره کړي؟

نوی ډیلي، د متحده ایالاتو، اروپايي ټولنې او نورو متحدینو د ځواکونو د بیړنی وتلو په تړاو کلک خبرداری ورکړی او ټینګار یې کړی چې طالبان د هغه هوکړه لیک زیاترو ژمنتیاوو ته ژمن نه دي، چې د ۲۰۲۰ ز. کال د فبرورۍ پر ۲۹ مه نېټه، د طالبانو او متحده ایالاتو ترمنځ لاسلیک شوی دی. په دغو ژمنتیاو کې، د تاوتریخوالي کچې راټیټول او د القاعدې ډلې په ګډون د یو شمېر تروریستي ډلو د فعالیتونو محدودول شاملېږي. همدارنګه هند خبرداری ورکړی دی، چې پاکستان په خپله خاوره کې د طالبانو د پناهځایونو د له منځه وړلو په اړه هېڅ راز کومه ژمنتیا نه ده وړاندې کړې، چې دغه چاره طالبان د دې جوګه ګرځوي، چې د سولې په پروسه کې له پرمختګونو سره سره، بیا هم هر مهال په چټکۍ سره جګړې ته مخه کړي.



د پغمان په سیند چې د کابل سیند اصلی شاخه ګڼل کیږی د قرغی څو موخیزه بند، د هندوستان په مالي مرسته جوړ شوی. کابل ـ افغانستان، اپریل ۲۰۲۰. FES / (عکس اخیستونکی: مریم عالمي)

۱- له ابهامه تر ستراتیژي پورې پروژه: په سیمه کې د افغانستان د برلاسي کېدو راتلونکي احتمالي سناریوګانې څه دي؟ دا د فریدریش ایبرټ بنسټ یوه خپلواکه هڅه ده، ترڅو د افغانستان د ګاونډیو لپاره، د پالیسیو د تعدیل، او د اروپايي بهرنیو پالیسي جوړوونکو ترمنځ یوې هر اړخیزې اړتیا لپاره ورته سناریوګانې تدوین او تر بحث لاندې ونیسي. د پالیسۍ دا لنډیز، د دغې لړۍ یوه برخه ده، چې د اندریو واټکینز او ډاکټر تیمور شاران له خوا لیکل شوی، ترڅو د پالیسۍ د موجودو ابزارو، ستراتیژیکې ګټې او د افغانستان په د ننه او بهر کې د اصلي شریکانو د ننګنو په تړاو، د امریکا د وتلو او د افغانستان د سولې خبرو پایلې، تر بحث لاندې ونیسي. د پالیسۍ د لنډیزونو بشپړ نوملړ، په لاندې ادرس کې ترلاسه کولی شي: http://www.afghanistan.fes.de/publications.

۲- تر ۱۹۹۰ کال پورې اوه سني جهادي ډلو او یوی شیعه جهادي ډلې له پاکستان څخه فعالیت کاوه، چې د متحده ایالاتو، سعودي او نورو له خوا ورسره مرسته کېدله.

> تردې دمه، د هند کړنلاره د یو مشروط او "مسؤله" وتلو لپاره د متحده ایالاتو برید کونکي لابی باندې تمرکز کړې او د ناټو هڅونه چې لږترلږه د نړیوال تروریزم ضد ځواک ده چې کولی شي د افغانستان په خیر چاپیریال کې د وتلو وروسته خنډ په توګه عمل وکړي.

نوي ډيلي اندېښمن دی، چې د دغو تضمینونو له شتوالي پرته به ، له جدي ګواښونو سره، په ځانګړې توګه تر شخړې لاندې کشمیر کې، مخ شي. پر دې بنسټ، تر اوسه پورې په دې برخه کې د هند کړنلاره پر دې متمرکزه ده، چې د مسوولانه او شرایطو پر بنسټ د وتلو په تړاو پر متحده ایالاتو فشار راوړي او ناټو ته قناعت ورکړي، چې د ځواکونو تر وتلو وروسته باید په افغانستان کې له تروریزم سره د مبارزې یو نړیوال ځواک موجود وي، ترڅو د احتیاطي ځواک په توګه فعالیت وکړي.

همدارنګه د نوي ډيلي کړنلارې، افغانستان په مسله کې د ښکېلو لورو، په ځانګړې توګه له سیمه ییزو ځواکمنو هېوادونو سره، د تعاملات او اړیکو هلی ځلې تونډې کړې دي. هند په افغانستان کې د خپل نفوذ د تنوع او پراختیا په موخه، په افغانستان کې پر ناپښتانه ټاکنیزو حوزو باندې او د هغوی پر هغو مشرانو پانګونه کړې، چې د افغانستان په حکومت کې یې کلیدي پستونه ترلاسه کړي دي. په دې برخه کې، تراوسه پورې عبدالله عبدالله، عبدالرشید دوستم او د بلخ پخوانی والي عطا محمد نور له نوي ډيلي څخه رسمي بلنې ترلاسه کړې دي. همدارنګه هند له کابل او د افغانستان له ملي امنیتي ځواکونو سره ژمنه کړې، چې د جګړې د دوام په صورت کې به هغوی ته زیاتی مالي مرستې برابرې کړي.

## د جیوستراتیژیکو بدلېدو په حال کې شرایط: آیا هند د ماتې په درشل کې دی؟

نوي ډيلي، له ۱۹۷۹ ز. کال څخه راهیسې، په افغانستان کې چټک بدلون په حال کې ستراتیژیک چاپېریال ته د غبرګون په برخه کې، چې دا ځل له طالبانو سره د امریکا معامله او د یو سیمه ییز قدرت تشه ده، له ستونزې سره مخامخ پاتې شوی دی. د هند له لیدلوري، د منځګړیتوب او د سولې هوکړې د پلیتابه(تحقق) په برخه کې پر پاکستان د متحده ایالاتو باور، یوه ستونزمنه چاره ده. تر جګړې وروسته افغانستان کې د پاکستان د جوتې ونډې(رول) مفکوره، نوي ډيلي (او کابل) ان تر فوري ګواښونو زیات، له ستونزو سره مخ کوي. تراوسه پورې د سولې چوکاټ او د سولې پروسې پرمختګ، د هند او افغانستان دولتونو په زیان دی او داسې ښکاري، چې د سولې د پروسې پایله، په سیمه کې د ډيلي ستراتیژیک، ډیپلوماتیک، اقتصادي او سیاسي دریځ محدودوي. د امریکایانو تر شاته کېدو او وتلو وروسته، د قدرت او واک هر راز اندولونه، کولی شي ان د هند د نړیوال واک موخې له ګواښ سره مخامخ کړي؛ ځکه دا کار کېدای شي د روسیې او چین د دریځونو د بدلون لامل هم شي.

نوي ډيلی، له یو ډول شک او تردید سره مخ دی: په داسې حال کې چې هند په افغانستان او سیمه کې د خپلو ډیپلوماتیکو، امنیتي او اقتصادي ګټو د خوندیتوب په لټه کې دی، ښکاري داسې، چې په نژدې راتلونکی کې به دغه هېواد میدان پرېږدي؛ پرته له دې چې پام کې ونیول شي، چې له دغو لاندینیو سناریوګانو څخه کوم یوه یې رامنځته کېږي. دا له دې امله ده، چې پاکستان پر طالبانو، چې د افغانستان د سولې پروسې اصلي محور دی، خپل نفوذ پوخ او کره کړی او دېمن دی، چې د بریا یا ماتې په صورت کې کولی شي، په افغانستان پورې اړوند چارو ته شکل ورکړي. (د صفر جمع) تفکر، چې تر ډېره د پاکستان او هند ترمنځ لانجې بیانوي، په دې مفهوم دی، چې د پاکستان متداوم نفوذ د هند په زیان دی. سربېره پر دې، د نوي ډيلي د اقتصادي ادغام پروژې، چې د پاکستان د څنګ ته کولو په موخه رامنځته شوې، د هغو د پایلو له څرګندېدو پرته به تر فشار لاندې راشي. د طالبانو تر واک لاندې یو دولت ښایي له هغو سوداګریزو ترتیباتو څخه ډډه وکړي، چې د هند په ګټه دي؛ په داسې حال کې چې یوه کورنۍ جګړه کولی شي په اسانی سره د سیمه ییز سوداګرۍ امنیت او تدارکات له منځه یوسي. پر دې اساس، افغانستان په تړاو د ډيلي استراتیژیکه کړنلاره، تر تولو په غوره بڼه کېدای شي، د ګواښونو کچې راټیټولو لپاره د هڅې په توګه وپېژندل شي.

نوي ډيلي، د خپلو ګټو د خوندیتوب په موخه، ګڼشمېر بدیلونه په خپل واک کې لري، چې په اټکلي توګه زیاتره به یې په سیمه کې چټک غبرګونونه له ځانه سره ولري. یو مسیر د افغان امنیتي ځواکونو د مالي ملاتړ زیاتوالی، د هغوی تجهیز او روزنه ده، ترڅو د هغوی له ثبات او پایښت څخه ډاډ ترلاسه شي. د دې پرخلاف، هند کېدای شي(ښایي) د دغه هېواد وسله والو ځواکونو له چوکاټه بهر د وسله وال مقاومت په ملاتړ کې، ځان مجبور احساس کړي؛ البته که چېرې په یو شمېر برخو کې طالبان د مسلط موقعیت خاوند وګنې. دغه بدیل(کړنلاره)، به سیمه ییزې پایلې هم ولري: هند کولی شي، له روسیې او ایران سره چې له هغوی سره وار دمخه ګډې اقتصادي ګټې لري، نژدې مشارکت او همکاري ولري او دغه هېوادونه اټکل کېږي چې په افغانستان کې دننه د واک له کورنیو لوبغاړو څخه په خپل ملاتړ کې زیاتوالی راولي. له دې پرته، دغه هڅې کېدای شي، د هغوی ترمنځ د سیالي لامل شي.




**د سویلي آسیا نقشه**

سرچینه: Wikipedia Commons

### د اروپايي ټولنې او هند ترمنځ استراتيژيک مشارکت: افغانستان د همپالنې ټکي په توګه

هنـد او اروپايـي ټولنـه لـه ۲۰۰۱ ز. کال وروسـته افغانسـتان کـې د ډموکراتيـک رغـاوي، د قانـون د واکمنـې، لـه تروريـزم سره د مبـارزې او سـولې او ثبـات د پياوړتيا پـه تـړاو ، له ګـډې موخـې او اصولـو برخمـن پاتـې شـوي دي. عمـلي اړخـه، دواړو پـه هغو برخـو کـې خپلـه پانګونه کړې، چـې پخپلـه دوی ته يې هم ګټـه رسـېږي؛ دوی له افغان دولت سره د پـام وړ مرسـتې کـړې دي. د اروپايـي ټولنـې او هنـد ترمنـځ د ۲۰۲۰ ز. کال د جـون مياشـتې سـتراتيژيک مشـارکت: تـر ۲۰۲۵ کال پـورې د لارې نقشـه، ګډ امنيتي ګواښـونه او سـيمه ييـزې ننګونـې جوتـوي او د ګـډو موخـو لکـه له تروريـزم سره د مبـارزې په برخه کـې، پياوړي همـکارۍ هڅـوي[۳]. دواړه لوري کولـی شي، دغـه ميکانيزم ته په پـام سره، او د خپلـو مشـورتي ناسـتو د تنظيـم او جوړښـت لپـاره د خپلـو ګـډو اړيکـو پـه د ننه، په سـيمه کې د سـولې او ثبـات د ټينګښـت او هوسـاينې په برخه کـې خپلو سـياسي همکاريو ته پراختيـا ورکـړي. کـه څـه هـم افغانسـتان پـه اړه تـر دې مهالـه، لـه اعلاميو ورها خوا، بنسـتيزې او سـمبال شـوې همغـږۍ يو څه شـتون درلود.

■ **ګډ ارزښتونه او اصول:**



ګـډ دمواکراتيـک ارزښـتونه، پـه افغانسـتان کـې پرمختيايـي او امنيتـي موخـو ته رسـېدو په موخـه، د اروپايـي ټولنې او هنـد همکاري راجلبوي. د سـولې پروسـې په تـړاو، د سـياسي ثبـات، د لږکيـو د حقونـو خونديتابـه او د تېرو ۱۸ کلنو لاسـته راوړنو د سـاتنې له اړخـه، د نوي ډيلي او بروکسـل د موخو ترمنځ همغـږي او ملګرتيا شـتون لـري. دغـه چـاره، د وروسـتيو ټاکنـو، سـولې پروسـې او پـه پراخه کچـه د موجود سـياسي نظـام د ملاتړ په برخه کـې، د اروپايي ټولنـې او هند پـه دريځونو کـې ترسـترګو شـوي دی. دواړه هېوادونـه پـه راتلونکـې کـې کولـی شي، سيمه ييزی او نړيوالی ښـکېلې مراجع وهڅوي او تر فشـار لانـدې راولي، تر څـو له دغو ارزښـتونو او لـه افغانانـو سره له مرسـتې ملاتړ وکړي.

■ **سيمه ييز ادغام او سيمه ييزې همکارۍ:**



هنـد د اروپايـي ټولنـې لـه مهمـو سـوداګريزو شريکانـو څخـه دی او دې تـه ډېره لېوالتيـا لـري، چـې د يـو اقتصـادي زبرځواک پـه توګـه راڅرګند شي. لـه دې سره سره، سـيمه ييـزه امنيتـي بـې ثباتـي، د دې لامـل شـوی، چـې د هند لـه اقتصادي ورتيـاوو او لـه مرکزي اسـيا سره د دغه هېواد له اقتصادي اړيکـې مخنيـوی وکړي. همدارنګـه اروپايـي ټولنـه د هنـد د يـو سـتراتيژيک شريک په توګه کولـی شي، د هند او پاکسـتان ترمنځ منځګړيتوب وکړي، ترڅو د سـتر سـيمه ييـز اقتصادي ادغام او اتصـال لپاره انګيـزه رامنځته شي.



■ **په افغانستا ن او سيمه کې سياسي ټيکاو:**

د هنـد لېوالتيـا او پاملرنـه پـه افغانسـتان کـې د اوسـني سـياسي نظـام پر سـاتنې او د دولت لـه پرځېـدو او د طالبانو ښېرته سـتنېدو څخـه پـر مخنيوي متمرکـزه ده. هند او د اروپايـي ټولنـې بېلابېـل هېوادونـه بيـا هـم کولـی شي، د متحـده ايالاتـو د ځواکونـو له وتلـو وروسـته، د پرمختيا او ثبـات په برخه کې پـه دغه هېواد کې مرسـته وکـړي. کـه هغـوی دا غـوره کـړي، چـې د مرسـتو د کمېـدو خـلا، چـې احتـمال لري، پـه وروسـتيو کلونو کـې يـې کچه لـوړه شي، ډکـه کړي ، نـو پـه دې برخه کې سرچينـې برابرولـی کولـی شي؛ چـې ښـه بېلګه يې د ژنيـو وروسـتی کنفرانس و.

## په افغانستان کې احتمالي سناريوګانې: د هند ليدلوری

پـه دې پـړاو کـې، هنـد د سـولې روانـې پروسـې د تولـو پايلـو او د افغانسـتان د راتلونکـي دولـت د ترکيب پـه اړه اندېښـمن دی. د سـيمه ييز امنيت د پـراخ چاپېريال ثبـات او پاکسـتان پـر ورانـدې د پيـاوړي دريـځ لرلـو په موخـه، د هند بنسـتيزه موخه دا ده، چـې ناټو او متحده ايـالات پر دې قانع کـړي، چې په يو ډول نـه يو ډول په افغانسـتان کـې احتياطـي ځواکونـه چـې اټـکل کېـږي هدف يې لـه تروريـزم سره مبارزه وي، وسـاتي. دغـه لاره چاره هـم د بې ثباتولو لـه ګواښ سره مخ دی؛ ځکه د کمـو نړيوالـو ځواکونـو پاتـې کېـدل، د طالبانـو د خوځښـت د زياتېـدو پـه صـورت کـې، د دولت لـه سـقوط او پرځېدو څخـه مخنيوی کولـی شي. د دغې سـناريو د ماتـې پـه صـورت کـې، کـه څـه هـم تراوسـه پـورې پـې د منلـو وړ کومـه پايلـه رامنځته شـوی نـه ده، اټکل کېـږي هنـد به پـه لانـدې لارو چارو لـه نويـو راتلونکو سـناريوګانو سره لاس او ګرېـوان کېږي:

- **يـو نړيـوال باثباتـه او مشروع حکومت:** د دغـه سـناريو لـه مخـې، افغان دولـت لـږ تـر لږه په خپل اوسـني بڼه پاتې کېږي او طالبـان ښـايي د واک وېش د يـوې معاملې لـه مخـې، پکـې شـامل وي. پـه هغـه صورت کې، چـې د اوسـني رژيـم واکمنې څېرې وکـړای شي د نوي ډيـلي ګټـې خونـدي او د هغوی له ترلاسـه کېـدو او سـنبالتيا ډاډ ورکـړي، نـو ښـايي دا يـوه مطلوبـه سـناريو وي. کـه څه هـم طالبانو او پاکسـتان يادونه کـړې، چې د سـولې نهايي هوکـړه ليک په صـورت کـې بـه پـه کابـل کـې د حسـاب تصفيې غوښـتنه وکـړي[۴]. پـه راتلونکـي کـې لږترلـږه په لنډمهالـه موده کـې پر دغـه ډول حکومت باندې نفـوذ لپاره د هنـد ځواکمنـې، پـر هغـه کليـدي شـخصيت ولاړه وي چـې هنـد لـه خوا يـې ملاتړ کېـږي او طالبانـو سره د واک وېش لـوری دی، چې منل يـې کېدای شي طالبانـو او پاکسـتان لپاره سـتونزمن ثابت شي.

۳- د ۲۰۲۰ ز. کال په جولای کې، د اروپايي ټولنې او هند ترمنځ پنځلسمه ناسته، د هند او اروپايي ټولنې ترمنځ نوی ستراتيژيک ګډون تصويب کړ: تر ۲۰۲۵ کال پورې د لارې نقشه، چې د ګډو اقداماتو ترسره کولو او د هند او اروپايي ټولنې ترمنځ د اړيکو د لا پياوړتيا لپاره، د پنځو راتلونکو کلونو لپاره شمېرل کېږي.

۴- "د پاکستان د بهرنيو چارو وزير، د بنديانو د خوشې کېدو په تړاو يو لړ ښرګندونې وکړې او د پاکستان يو متقاعد جنرال، په کابل کې د رژيم د بدلېدو غوښتونکی شو، طلوع نيوز، سپتمبر .

- **یو باثباته رژیم خو د طالبانو تر واک لاندې:** په دغه سناریو کې، د افغانستان اوسنی حکومت یا له منځه ځي یا سقوط کوي، او طالبان بشر حقونو او ننني حقوقي اصولو ته په کمي ژمنتیا حکومت کوي. د طالبانو تر واک لاندې حکومت، کېدای شي د پاکستان یو ملاتړه حکومت وي یا لږترلږه کېدای شي داسې حکومت وي، چې د هند پر وړاندې نسبتا خصمانه سیاست ولري. په دې صورت کې، هند اټکل کېږي په اقتصادي او زیربنایي برخو کې د خپلو پانګونو وړاندوینه شوې لاسته راوړونې له لاسه ورکړي او په سیمه کې ځان منزوي احساس کړي. د کشمیر امنیتي وضعیت په داسې حال کې چې له چین سره یې سرحدي لانجې مخ په زیاتېدو دي، کیدای شي نوره هم زیانمنې شي. د دغه ډول یو راتلونکي حکومت د ننګولو لپاره، هند ښایي لکه ایران له نورو سیمه ییزو لوبغاړو سره متحد شي. که څه هم، هندي چارواکي، د دغه سناریو پر وړاندې د نوي ډیلي د غبرګون په تړاو چې طالبان پکې له هند سره له رغنده اړیکو څخه هرکلی کوي، تیاره او ناڅرګنده دي، چې آیا دغه وړاندیزونه په ښه نیت ومني او که رد یې کړي.

- **د کورني جګړې سناریو:** حکومت، د یو باثباته نظام له رامنځته کېدو پرته سقوط کوي او جګړې پراخېږي. په دغه سناریو کې ښکاري داسې چې سختې جګړې پېلیږي او ګاونډي هېوادونه له سیالو ډلو څخه ملاتړ کوي او اټکل کېږي، چې افغانستان به په حالې سیمې خپلو کې ووېشي چې د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ کلونو پېښې رایادوي. د طالبانو تر واک لاندې حکومت سره د مخامخېدو په صورت کې، په نوي ډیلي کې یو شمېر چارواکي کېدای په بې باورۍ سره دغې سناریو ته ترجیح ورکړي او د افغانستان په مرکزي او شمال سیمو کې د واک او قدرت له ځېرو څخه ملاتړ وکړي او هغوی تر خپلې اغېزې لاندې راولي او د طالبانو – پاکستان جغرافیایي محدوده کمزوري کړي. په دغو شرایطو کې، هند کولی شي د خپل ملاتړ کچه زیاته کړي او ان خپل افغان همترونو/ همپیمانانو ته چې په اټکلي توګه به د افغان امنیتي ځواکونو پاتې شونې وي، وسلې ولېږي او له نورو سیمه ییزو لوبغاړو سره همکاري وکړي.

## وړاندیزونه

- د لویدیځ تر پوځي شاتګ وروسته په افغانستان کې د ثبات په رامنځته کېدو کې د ګډو ګټو د ترلاسه کولو په موخه، هند او اروپایي ټولنه باید د افغانستان د پرمختیا او امنیت په برخه کې د اوسنیو دوه اړخیزو همکاریو له پراو څخه د دغه پروګرام د پلیتابه پړاو ته حرکت وکړي. د امنیتي همکاریو د پیاوړتیا په ځانګړې توګه له تروریزم سره د مبارزې په برخه کې، له هند سره د اروپایي ټولنې تعامل، کولی شي ان له سیمه ییز ثبات سره مرسته وکړي. د افغانستان له امنیتي او دفاعي ځواکونو څخه د هند ملاتړ، چې تل د پاکستان له تونډ غبرګون او بدګومانۍ سره مل وي، که په ځو اړخیزه بڼه چمتو/ مهندسي شي، کېدای شي د ناوړه نیوکو او غبرګونونو پر وړاندې، لږ زیانمنوونکې وي.

- د اروپایي ټولنې او هند ترمنځ د ستراتیژیک مشارکت هوکړه، چې د دواړه لوریو ترمنځ لاسلیک شوې، دواړه لوري کولی شي، د افغانستان د مسلې په تړاو یوه سیمه ییزه کړنلاره ولري او په افغانستان کې د سولې تر ټینګښت وروسته، د سولې، ثبات او هوساینې لپاره د مالي مرستې د یو ګډ صندوق رامنځته کېدو شونتیاوې وڅېړي. د هند سرچینې، اروپایي ټولنې سره د یو ځای کېدو د یوه اصلي کاندید په توګه دغه هېواد افغان دولت سره په یو اصلي تمویلوونکي بدلوي، چې خپلوپام وړ مرستو ته به دوام ورکړي.

- د دوو سیمه ییزو اغېز لرونکو هېوادونو - ایران او روسیې پر سیمه ییزو ګټو اغېزمنتیا کې د اروپایي ټولنې محدودې وړتیا ته په پام سره، که هند له ډیپلوماتیک اړخه له دغو دوو هېوادونو سره پیاوړې اړیکې ولري، نو ترې بالقوه زیاتې ګټې ترلاسه کولی شي. دغه دواړه هېوادونه کولی شي، له اروپایي ټولنې او هند سره د نږدې کاري اړیکو په رامنځته کولو سره په ګډه کار وکړي، او له دې لارې د یوه نوي تمویلوونکې بلاک ډیپلوماتیک ځواکمن او افغانستان کې د نورو هېوادونو له بې ثباته کوونکو کړنلارو څخه مخنیوی وکړي.

- د کېډوالي او سیاحت په برخه کې هند کولی شي، د ویزې په پالیسي کې په ځانګړې توګه د ناروغي، سیاحت او پانګونې په برخه کې ویزو کې د افغانانو لپاره اسانتیاوې رامنځته کړي. د زیات شمېر افغانانو لپاره، هند د ناروغي د درملنې لپاره تر ټولو باکیفیته مرجع ګڼل کېږي. دغه ډول اړیکې، د دواړو هېوادونو ترمنځ د تلپاتو او متداومو اړیکو د دوام په برخه کې ډېرې اړینې دي.

---

**د لیکوالانو په اړه**

داکټر تیمور شاران د افغانستان په امریکایي پوهنتون کې د عامه پالیسۍ مرستیال پروفیسور دی او تر دې پخوا د افغانستان لپاره د کرکټ نړیوالې ډلې لوړ پوړی شنونکی و.

انډریو واټکینز د افغانستان شخړې او سولې لپاره د هیله منده څېړونکی او شنونکی دی او د شخړو په مخنیوي کې ژوره ښکېلتیا لري. تر دې پخوا یې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو، بشري ټولنې، د امریکا متحدو ایالتونو حکومت او خپلواک څېړونکي په توګه دندې ترسره کړې دي.

**د پښتي د انځورونو په اړه:**

د هند لومړي وزیر نریندرا مودي (مینځ کې) د افغانستان د ولسمشر محمد اشرف غني (دویم ښی) تر څنګ، د افغانستان د پارلمان د نوې ودانۍ د پرانستې پرمهال چې د هند د حکومت په مالي مرسته جوړه شوې ده، د میلمنو کتاب لاسلیکوي. ۲۵ دسمبر ۲۰۱۵ز. کال

انځور: رویترز / عمر سبحاني

چاپ ©۲۰۲۱ په افغانستان کې د فریدریش ایبرت بنسټ

وبپاڼه: www.afghanistan.fes.de

د فریدریش ایبرټ بنسټ له لیکلې مخکېنۍ اجازې پرته، د فریدریش ایبرت بنسټ له خوا هر راز خپرونو څخه سوداګریزه ګټه اخیستنه جواز نه لري.

په دغه خپرونه کې وړاندې شوې نظریې، د فریدریش ایبرت بنسټ د لیدلورو منعکسوونکي نه دي.